پوهاند عبدالحی حبیبی ۲۰۱۷/۰۷/۰۳

# اشرف الوزراء



*د شیر سرخ په زیارت کی لوی احمدشاه بابا د افغانستان په باچاهی و تاکل سو*
*د مرحوم استاد عبدالغفور برېښنا انځوریز اثر*

د افغانستان په تاریخ کي دوه تنه د اشرف الوزراء په لقب مشهور دي، چي دواړه پلار او زوی د دی هیواد د یوی پېړی په سیاسي پېښو کي پوره برخه درلوده.

کله چي لوی احمدشاه بابا په ۱۱۶۰ هـ کال د کندهار د شیرسرخ په لویه جرګه کي په شاهي ټاکل کېده په دغه جرګه کي د بامیزو له وړې قبیلې څخه یو دروند، فعال او هوښیار سړی هم شامل ؤ، چي بګی خان نومېدی.

دا نوم ډېره لرغونه او اصیله ریښه لري. "بګ" په قدیمه دری ژبه کي د خـدای د نـوم په معنی ؤ، او په پښتو کي هم د لوی او عظیم معنی لـري، نو"بګی" د خدای او د خدای پیدا کړي په معنا ؤ. کله چي احمدشاه بابا پر افغاني شاهی تخت کښناست، نو بګی خان ئي د لیاقت او صداقت او قومي وجاهت له رویه خپل لوی وزیر وټاکه او د شاه ولي اشرف الوزراء لقب ئي ورکړ.

اشرف الوزراء وروسته د احمدشاهي دربار لوی رکن او صدراعظم غوندي ؤ، او د افغانستان په بیا جوړولو کښي ئی غښتلئ لاس درلود. دی عاقل، مدبر، اداره چي، او دلاور عسکر، او د افغان ملت په روحیاتو پوه سړی ؤ، د جنګ پر میدان بریالی سپهسالار او د هیواد د چارو په تدبیر او چلولو کي بیا یو فعال اداره چي او د پښتنو د ژوندانه په لارو چارو کي یو تکړه جرګه مار او د ویسا وړ مشر ؤ. لکه په دربار کي چي معتبر ؤ، دغسي هم په اولسي جرګو او ټولنو کي د ده خبره چلېده او هر چا په درنه سترګه ورته کتل.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د حسین شاهي تأریخ مؤلف امام الدین لیکي  چي اشرف الوزراء خورا فصیحه ژبه، د بیان قوت او سحاره وینا درلوده او  په اکثرو جنګي سفرونو کي د شهنشاه سره ملګرئ ؤ ، په ۱۱۶۳ هـ کال  د خراسان په تصفیه  او د نیشاپور  د حاکم عباس قلی خان بیات په اېل کولو کي ده  لویه برخه لرله او بیا چي احمدشاه بابا د پنجاب ، کشمیر او سند خوا ته متوجه سو، اشرف الوزراء هم ورسره ؤ.   په ۱۱٦٤  هـ  کال ئي له مروی څخه  نیولي بیا تر بدخشانه  د افغانستان  ټول شمالي ولایات  د هیواد له مرکز سره ونښلول، او د ۱۱۷٤ هـ کال د پاني پت په لویه تأریخي جګړه کي هم دی د نونسو زرو لښکرو سره د افغاني اردو په زړه کي جنګېدئ. حافظ مرغزی، د احمدي شاهنامي ناظم وایي:

که وزیر دئ شاه ولي

په عالم کي وو جلي

غم دي نه کاندي وزیر

چي دعا لـري تاثیر

د دعـــا دئ دا اثـــر

تا به کا په جهان سر

تمام ملك چي د خسرو

ستا په مهر به بیا شي نو

تر دې تأریخي فتحي وروسته په ۱۱۷٥  هـ بیا په پنجاب کي د دوو لکو یاغي سکهانو سره ونښت، د سرهند حکومت ئي امرسنګهـ ته وروسپاره او نورالدین خان بامیزی ئي کشمیر ته واستاوه، او خپل زوی دوست محمد خان اعتماد الدوله  ئي هم د کشمیر او جمو د سیمو تصفیي ته ولیږه په ۱۱۷۹  هـ  کال اشرف الوزراء خپله لور بلقیس د احمدشاه بابا  زوی شهزاده سلیمان ته ور واده کړه او په ۱۱۸۱  هـ بیا شاه ولیخان شمالي ولایاتو ته ځکه سفر وکړ، چي د بخارا پادشاه پر دغو افغاني  ولایاتو باندي تعرض کړئ ؤ، نو پخپله احمدشاه هم د هرات له لاري هلته ولاړ، او د بخارا له حکومت سره ئي روغه وکړه، او د دواړو مملکتو  سرحد د آمو سیند وټاکل سو.

په دې سفر کي شاه ولیخان خرقه شریفه په ۱۱۸۲ هـ کال د جوزجان له فیض آباده نه کندهار ته راوړه، چي یوه شاعر دا واقعه داسي راوړې ده:



*د دُرانی لښکرو یو سپهسالار  او  یو  سرتیری*



د حضرت محمد مصطفی (ص)
مبارکی خرقی ته منسوب یو انځور

زهی خرقــه بــاد عادت که شد
خراسان ز فیض قدومش منور
معلــی جناب احمد آن شاه والا
که بَدْوِ رتبه اش برتر از بام اخضر
فرستاد در جورکگون بهر تعظیم
ولی خان وزیر خود آن نیك اختر
بیاوردش از جوزکگون آن نکو نام
بصد عز و تکریم بسیار و صد فر



اعلیحضرت تیمور شاه دُرانی

په ۱۱۸٦ هـ کال کله چي احمد شاه بابا د کندهار د "توبې" په غره کې وفات سو، نو اشرف الوزراء د احتیاط په توګه خپل زوم شهزاده سلیمان په پادشاهي وټاکه، مګر شهزاده تیمور چي د هرات حکمران ؤ ژر راغئ، او د بکوا په دښته کې ئې شاه ولیخان د ده د کورنۍ څو تنه ووژل او په کندهار کې پادشاه سو.
شرف الوزراء په کورنۍ کې وروسته ډېر مشاهیر پیدا سوي دي چي تر ټولو نومیالۍ ئي زوی شېرمحمد خان ؤ چي وروسته ده ته هم د اشرف الوزراء لقب ورکول سو ، دی د ن شریف حافظ هم ؤ چي د پلار تر مرګ وروسته ئي د نصیرخان بلوڅ دربار ته پناه روړه او بیا نو کندهار ته راغئ او په خپله پلرنۍ کلا کې د دَهْلې د ارغنداو پر غاړه اوسېده. کله چي په ۱۲۰۷ هـ تېمورشاه وفات سو، او دده زوی شاه زمان پر تخت کیناست، نو شېرمحمد خان ئې د مختارالدوله په لقب خپل وزیر مقررکړ، ده د شاه زمان او شاه شجاع د عصر په پېښو کې لوی لاس درلود، او په سند، کشمیر، خراسان او کابل کې ئې مهم کارونه کړي دي.
امام الدین د تاریخ حسیني لیکوال چي د ده معاصر مؤرخ دئ د ده حال داسي لیکي:
"اشرف الوزراء مختارالدوله حافظ شیرمحمد خان بهادر، پسر اشرف الوزراء شاه ولیخان بهادر بامیزی مرحوم است که در زمان حضرت تیمورشاه مغفور مبرور، بعد از کشته شدن پدر خود با احوال غرباء در گوشه ئی بسر میبرد. چون خاقان زمان بر سریر سلطنت جلوس نمود، شیر محمد خان ممدوح را بخطاب مختارالدوله به اعلی رتبهٔ وزارت سرفراز ساخته، سردار کل ایلات درانیه فرمودند. او مردیست خدا ترس رعیت پرور، خوش خلق، شیرین گفتارو سخي که مردم دور دست با وصف نادیدگی ثنا خوان او هستند. از مکر وحیله عاریست و دُرانیان بسیار به او رجوع دارند".
په ۱۲۰۸هـ کال د بلوڅو امیر میرنصیر خان مړ سو، او دده پر ځای کوچنی زوی ئي میر محمود خان ودرېد، نو میر بهرام خان بلوڅ د ده سره مقابله شروع کړه، میر محمود خپل وزیر ملا فتح محمد او محراب خان د شاه زمان دربار ته د کومك لپاره ورواستول. افغاني دربار هم دغه شېرمحمد خان د دوو زرو سپرو سره د میر محمود کومك ته واستاوه چي میر بهرام ته ئي ماته ورکړه او میر محمود ئي د کلات پر امیری باندي ټینګ کړ.

وروسته په ۱۲۱۱ هـ کال اشرف الوزراء مختارالدوله پنجاب ته مقرر سو، چي هلته ئي په شیخپوره کي یاغي سیکهان سره ومروړل، او پنجاب ئي له دوی څخه پاك كړ.

په ۱۲۱۲ هـ کال له خراسان څخه د شاهرخ میرزا زامن، نادري شهزادگان، عباس میرزا او نادر میرزا د آقامحمد قاجار له لاسه افغاني دربار ته پناهنده راغلل، نو په همدغه کال مختارالدوله اشرف الوزراء دوي بیرته مشهد ته بوتلل، دغه ښار ئي ونیو او دغو نادري شهزادگانو ته ئي ور وسپاره.

کله چي د افغانستان تخت تر اوږدې کورنۍ جګړې وروسته په ۱۲۲۲ هـ کال شاه شجاع ته ورسید، نو ده مختارالدوله د کشمیر حکومت ته مقرر کړ، چي وروسته نو عطاء محمد خان د ده زوی هلته حاکم پاته سو، او پخپله شېرمحمد خان د کابل شاهي دربار ته راوغوښتل سو.

مګر مختارالدوله مرکز ته را نه غئ او د شاه زمان له زوي سره چي شهزاده قیصر نومېده ملګرئ سو، او پېښور ئي ونیوه. کله چي شاه شجاع د خپلو لښکرو سره پر پېښور حمله وکړه، مختارالدوله او دده ورور حاجي میر احمدخان دواړه په د جعفر خان کوټ په جنګ کي مړه سول، چي دغه واقعه په ۱۲۲۳ هـ کال پېښه سوې ده.

د شېرمحمد خان څلور زامن مشهور دي، چي عطاء محمدخان، جانداد خان، سلطان محمد خان او غلام محمد خان نومېدل. د وزیر اکبر خان ماینه د غلام محمد د اتك د حاکم لور وه چي د اول جنګ په زمانه کي د شهزاده فتح جنګ وزیر ؤ. د اشرف الوزراء حافظ شېرمحمدخان څورلس نور وروڼه هم د افغانستان په تاریخ کي شهرت لري، چي له هغو څخه نظام الملك ګل محمد خان د کندهار نایب الحکومه او حاجي عبدالرحیم خان او قمرالدین خان د شالکوټ (کویټي) حاکمان وه. د شاه ولي خان وراره عطاګی خان د یعقوب علی خان زوی هغه سړی دئ چي د پاني پت په جګړه کي د افغاني لښکرو سالار ؤ، او هم په دغه جنګ کي شهید سوئ دئ.

د اشرف الوزراء شاولیخان مځکي او د هستوګني ځای د کندهار د دَهْلي هغه سیمي دي چي اوس د ارغنداو بند پرې جوړ سوئ دئ او د هغه مځکي او کلاوي تر اوبو لاندي سوي دي.

دغسي هم د دوی اولادې د کویټي په شال کي جایدادونه او مځکي درلودې چي تر اوسه ئي هم ځني بقایا هورې پاتي دي. د کندهار د ښار د بامیزو په کوڅه کي د شاه ولیخان کورونه وه، او له هغو سره ئي یو لوئ جامع جمات هم جوړه کړې ؤ چي اوس ئي زوړ جامع بولي.

اشرف الوزراء شاه ولیخان او د ده تکره څورلس زامن د احمدشاهي سلطنت ارکان وه، او د دغه لوی او پراخ هیواد په اداره او احمدشاهي فتوحاتو کي ئی لویه برخه درلوده. د تیمورشاهي دربار لویه سهو دا وه چي دغه نامتو، غښتلی او مدبر وزیر ئي مړ کړ نو له دې کبله ؤ چي افغاني سلطنت وروسته ضعیف او په کورنیو جګړو اخته سو.

په تاریخ کي ځیني وقایع کټ مټ تکرارېږي، کله چي لوی سلطان محمود غزنوی په ٤۲۱ هـ کال وفات سو، نو د ده لوی زوی شهزاده مسعود د هرات له لارې راغئ او خپل کشر ورور محمد ئي چي په غزني کي پاچا سوئ ؤ ونیوه او د پلار لوی وزیر حسنك ئي مړ کړ د هغه شاهي په دې اقدام سره ډېره ضعیفه سوه. موږ ګورو چي ۷٦٥ کاله وروسته عیناً دغه سهو بیا تکراره سوه او د احمدشاه تر وفات وروسته د ده کشر زوی سلیمان په کندهار کي پاچا سو، مګر مشر شهزاده تیمور له هراته راغئ، خپل کشر ورور ئي ونیو او د پلار نامدار او مدبر او بریالی وزیر ئي مړکړ چي د تېمورشاه د سلطنت قوت هم ورسره زایل سو.

دا زموږ د تاریخ هغه عبرت بخښونکي پېښي دي چي باید د مملکت په ګټه، عبرت ځني واخیستل سي[1].

[1] ورمه مجله د ل ۱۳۵۳ کال لومړی ګڼه ص ۳